سمیع الدین افغانی ۲۰۱۹/۰۴/۰۴

# تیریادونه

خړ سیندونه سیلابونه می یادیږی     د وطن شنه شنه فصلونه می یادیږی

د ودونـو او دودونـو رواجونو     ها دیری ها مجلسونـه می یادیږی

سندریز خوږی نغمی دحجر و مینځ کی     هـا ګیسونه او کتـونـه می یادیږی

د مـرغـیـو ګڼه ګـونه او سیلونه     د چق مق توپک غږونه می یادیږی

په جوزا کی د توتانو په موسم کی     د فصلونو درمندونه می یادیږی

مصلی اود درمند شاخی په لاس کی     تورچنګړ لوی لوی چجونه می یادیږی

د دهقان په لاس چه تیګه دمیزان شی     لـپکی او خـجـورونـه می یادیږی

د چینی نه د اوبـو منګی په سر کی     ها د پیغلـو کـتـارونه می یادیږی

مـړ او بـل د اوربلـکـو الـوتنی     د بامـو د سر خوبونه می یادیږی

په اختر کی د ځـوانـانو ډلی ډلی     هـا مـیلـی او اتـنـونـه می یادیوی

د پی مخو ښکلو پیغلو بیر او بار کی     هغه لوی لوی زیارتـونه می یادیږی

رنګ په رنګ ښکلی جامی د طاعتونو     په مسجد کی ښه وعظره نه می یادیږی

ځومره ښکلی څه ښایسته کلی باندی دی     جم او جوش د بازارونو می یادیږی

یادول یـی زیاتـوی د زړه دردونه
افغانی ها تیر وختونه می یادیږی

** * **

یادونه: که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر  او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com